# د ولي خان په نثر کښې فوکلوري انځورګري

## A Study of Folkloric Sketch in the Prose of Wali Khan

ګل منير اديزي*

**Abstract:**

Khan Abdul Wali Khan, with his significant prose leads the Khudai Khidmatgar prose writers in twentieth century. His writings have preserved a paradigm of Pashto folk essence, indigenous culture and collective conscience. His unique style has earned him notes of appreciation from critics. The use of Pashto Tappa, proverbs and domestic narratives in the right place and authentic words have brought him forward as a prominent literary person. This article will shed light on his distinctive prose, its style and its contribution in preservation and presentation of Pashto Tappas, proverbs and primitive fables .

عبدالولي خان د شلمې پيړۍ د خدائي خدمتګار تحريک د ډلې او سبک هغه نثرنګار دی، چا چې نۀ يواځې د اجتماعي علومو او موضوعاتو له په خپلو نثر ليکنو کښې ځای ورکړی دی بلکې د خپلې ځانګړې انداز بيان له کبله يې يو انفرادي اسلوب کښې نثر ليکنې تر سره کړې دي. د خوږې محاروې او روزمرې د رنګونو سره سربېره د هغۀ په نثر ليکنو کښې د متلونو او ټپو په زړۀ پورې او بر محل استعمال د کمال تر حده رسېدلی دی، چې په لاندې کرښو کښې به د هغۀ په نثر کښې متل او ټپې په استعمال ځان ځانله بحث تر سره کيږي، چې ولي خان د فولکلوري توکو استعمال په خپلو نثر ليکنو کښې څنګه تر سره کړی دی؟

### متل

متل چې په پښتو کښې ورته "متل" اردو کښې "ضرب المثل" او په انګرېزۍ کښې ورته Proverb وائي، هغه مشهورې، مؤثرې او مختصرې، جامع، ساده او بې تکلفه وينا يا جملې ته وئيلی شي چې دموزون الفاظو لرلو سره مناسب ترتيب لري او د اوچتې معنٰی واضحه مفهوم ته وئيلی شي ـ يعنې د مشرانو او پوهانو د خولې وتلې هغه مقولې ته وئيلی شي چې لکه د کاڼي کرښه وي او سينه په سينه د يو نۀ بل ته منتقل کيږي ـ

سيد عظيم شاه بخاري صاحب د متل پېژندګلو داسې کوي:

"متل په اصل کښې داسې خبره، جمله يا فقره وي چې د کومې قيصې د کومې واقعې يا د کومې اهمې پېښې په حقله د چا تجربه کار مشر يا پوهان وغېره د خولې بې ساخته ووځي او دا

* Ph.D. Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar

جمله، خبره يا فقره داسې د موقعې سره سمه معنا وره او سودمنه وي چې بيا نور خلق ئې هم په دغسې موقعو استعمالوي او بيا چې رو رو په اولس کښې ډېره عامه شي نو متل وګرځي ۔(1)"

د متل د اهميت او ارزښت په حقله ښاغلی پروفېسر محمد نواز طائر ليکي،

"ضرب الامثال کسی قوم کے مزاج اور اس قوم کی زبان کا وہ بنیادی سرمایہ ہوتا ہے جس میں اس قوم کے افکار وخیالات، روایات ورجحانات، رسوم ورواج، علوم وفنون، کسب وہنر غرض پوری زندگی اور زندگی کے ہر انداز کو کچھ اس طریقہ سے سمویا ہوتا ہے کہ ان میں کوئی بھی پہلو تشنہ نہیں رہتا۔ نہ صرف یہ بلکہ تجربات ومشاہدات کی بھٹی سے نکل کر یہ ضرب الامثال پتھر کی لکیر کی طرح دل پر نقش ہوجاتے ہیں۔ پشتون عوام زندگی کے حوادث سے آشنا انقلاب در انقلاب اور گوناگوں حادثات ان کی زندگی کا ایک مستقل حصہ ہیں۔ ان انقلابات و حادثات نے ایک طرف اگر ان کو علوم وفنون سے بہرہ ور ہونے کا موقع نہیں دیا تو دوسری جانب جہد للبقا کے سلسلہ میں ان کو وہ جوہر عطا کئے جس کی وجہ سے ہزار نامساعد حالات کے باوجود پشتون آج تک زندہ ہے۔ پشتونوں نے بھی سالہا سال کے انہی تجربات و مشاہدات کو ضرب الامثال، مقولوں اور کہاوتوں کی شکل میں اپنے ذہن میں محفوظ رکھا اور یہ سرمایہ یوں ہزاروں برس سینہ بہ سینہ ایک نسل سے دوسری نسل کو مع مزید اضافہ کے منتقل ہوتا رہا"(2).

متل په خبرو اترو کښې د تقرير سره سره په تحرير کښې د کارولو ډېر لوی اثرناک او زړهٔ راکښونکی عمل دی چې په جامع مقصد په مختصره توګه په خپله لمن کښې رانغاړي ۔ يعنې د ګښتو بحث په يوه جمله کښې واضحه کړي او لوستونکي يا اورېدونکي د خپلو روايتي اصولو په رڼا کښې په اسانه پوهه شي ۔

د متلونو برمحل استعمال په تحرير کښې خوند يو په دوه کوي او يو لوی مقصد په مختصره توګه ترسره کوي ۔ د متل په تحرير کښې د اهميت او ارزښت په حقله قلندر مومند "د قيصه خوانۍ ګپ" په مقدمه کښې د سي.اېم پرتې د دې وېنا په مخالفت (چې د متلونو استعمال هغه خلق کوي چې خپل استدلالي قوت ئې محدود وي) کښې ليکي:

‘‘که دا ومنو نو نور خو څهٔ کوئ چې د کتابِ مقدسه يوه اهمه حصه يعنې 'امثال' به هم د ښاغلي پرتې د تنقيد لاندې راشي ۔ زمونږ په زمانه کښې مشهور سياسي مفکر ماوزی تونګ د خپلې خبرې ابتداء د يو نهٔ يو چيني متل يا قيصې نهٔ کوي ۔ د دې نه خو دا نتيجه نهٔ شي وکښلې چې د ماوزی تونګ استدلالي قوت کم ؤ"(3).

د متل برمحل استعمال د هر چا د وس کار هم نۀ دی بلکې د متلونو استعمال په ژبه او کلتور باندې پوره قدرت او پوهه غواړي او دغه کمال ولي خان ته په ډېره ښه توګه حاصل ؤ۔ هغه نۀ یواځې دا چې د امروزه ژوند په خبرو اترو او تقریرونو کښې د متل مناسب او برجسته کارولو په چل پوهېدو بلکې په تحریر کښې ئې هم د متل استعمال د کمال تر حده رسولی دی۔

د متل داسې د تحریر او متن سره پېوست استعمال چې که چرې هغه ترې لرې کړی شي نو د متن به معنا د سره ختمه او بې اثره شي۔ د ولي خان په نثر کښې د متلونو د استعمال په حقله که زۀ دا ووایم چې په پښتو نثر لیکنو کښې که چا په بشپړه او اثرناکه توګه باندې د متلونو استعمال د کمال بام ته رسولی دی نو هغه خان عبدالولي خان دی۔ د خان عبدالولي خان د ټول ژوند تاریخي تقریرونه او تحریرونه د دې خبرې ګواه دي چې د متل برمحل او خوندور جالبه استعمال د هغۀ په هره درېمه څلورمه خبره او په هره دوېمه پاڼه ادبي رنګ او ښکلا ځلوي۔

دلته یو څو نمونې د هغۀ د نثر نه د بېلګې په توګه وړاندې کوم چې دمتلونو استعمال پکښې شوی دی۔

"یو خط راغی چې د پاسه بل خط راغی۔ ورسره 'خېبر' راوچلېد۔ پرې پسې بل خط د اختر مبارکي او ورسره د اختر نه لویه مبارکي د نسرین د لاس لیک او په اخره پرې سرباري د پاس کېدو خبر۔ نو څه هډو انصاف په تا چې ددې دومره ګڼو خطونو او پېرزوئنو جواب به په دې یوه پاڼه کاغذ کښې ځوک ځای کوي۔ خو بنده که بندي په خپل وس پړ دی۔ دا به په ډېر څۀ منظور کړې او په غېړو شکریې به قبولې کړې۔ خان دادا ته مې تېره هفته خط کښې لیکلي دي، تا به لوستلي وي۔ ما وې جهانزېب د امتحان د ورځو نه مخکښې ډېرې سوکړې راباندې تېرې کړې وې نو په یوه مخه داسې وورېدو چې هیله ئې تنده سړه او تېر یخ کړو۔ خط خو به مې درته دغه مخکښې هفته کښې لیکۀ خو د خان دادا نه وېرېږم۔ وائي کنه چې 'د مشر مشره برخه او د کشر کشره'، 'برابر نۀ دی د چرګبانګ د ملابانګ'، نو تۀ به زهیرېږې نۀ چې هغه وړاندې مخکښې شو"(4).

"ولې پښتانۀ متل کوي 'چې ګیدړ ته خدای په قهر شي نو کلي ته مخه وکړي'، داسې معلومېده چې بهټو صاحب د خپلې ډېرې هوښیارتیا او تجربې په بناء څۀ ګنجائش نۀ پرېښودۀ نو نتیجه دا ده چې چټې ئې د قام مخه ځان او پیپل او د الېکشن پالیسۍ ته کړله۔ خلق پوهه شو چې په راتلونکي انتخاباتو کښې به ضرور ټګي کیږي"(5).

"نو ملګرو دا کوشش وکړو چې د بهر نه یو نامتو وکیل راولي نو بهټو صاحب ته پته ولګېده نو هغۀ قانون پاس کړو چې کوم وکیل په پاکستان کښې دوه کاله وکالت نۀ وي کړی نو هغه د پاکستان عدالت کښې نۀ شي پېش کېدی۔ دا هم هغه قانون ؤ چې بهټو صاحب په خپل

حکم زمونږ برخلاف پاس کړی ؤ ـ نن ئې د هغې کوهي په غاړه په خپله شپه شوله چې مونږ ته ئې کنستی ؤ ـ هسې خو پښتانهٔ وائي چې 'هوښیاره مرغۍ خو اول نښلي نهٔ او چې نښلي نو بیا د دواړو پښو نه نښلي"(6).

داسې د متلونو د خوند او رنګ نه ډکې د هغهٔ په تحریرونو کښې په سلګونو بېلګې دي چې هره یوه د وئیلو او لوستلو جوګه ده خو زهٔ دلته د هغهٔ په نثر کښې د استعمال شوي متلونو نمونې وړاندې کوم چې نهٔ یواځې دا چې د ولي خان د حافظې او د پښتو د فولکور سره د مینې اندازه ترې کیږي بلکې د هغهٔ د ښکلي کلېکشن (Collection) په اوچت معیار هم دلالت کوي ـ

**متلونه:**

| | |
|---|---|
| باچاخان او خدائي خدمتګاري(وړومبی ټوک) | مخونه |
| تهٔ رانه تته غواړې، زهٔ درنه پوزه پرېکوم | 30 |
| که جغ نهٔ وي نو مولی خو به شي | 18 |
| زر په غرهٔ کښې لاړ وباسي | 28 |
| د رېښمو او سنډونو شریکه بیاسته نهٔ کیږي | 33 |
| باچاهي کول د خټو ګوګوشتو خو نهٔ دی | 38 |
| د سپږې د پاره څوک کیند نهٔ سیزي | 52 |
| کږه خولهٔ په سوک سمیږي | 93 |
| ړوند د خدایه څهٔ غواړي؟ دوه سترګې | 147 |
| د سور نه ئې تیلیا بد دی | 201 |
| حق به هم حق وي خو زور هم حق دی | 312 |
| باچاخان او خدائي خدمتګاري(دوېم ټوک) | مخونه |
| چې چا سره کار وي، هغه سرکار وي | 18 |
| تېر په هېر باقي روزګار | 30 |
| سر حیات وي نو خولۍ ډېر دي | 58 |
| یو طرف ته ډانګ دی او بل طرف ته پړانګ | 78 |
| ماموته! بیا دې موته | 83 |
| ټوک وینې او تېپېر نهٔ وینې | 98 |
| د چا د مرګه او د چا د بخته | 108 |
| هوسۍ څهٔ ګړندۍ وه چې لاګونګرودې ورته واچوهٔ | 128 |

کته باندې، کټوې باندې 135
باچاخان او خدائي خدمتګاري(درېم ټوک) مخونه
چې د کولال د کوره ووځي، ببخ دې ووځي 2
په يو کاټي دوه مرغۍ ويشتل 16
چې ګيدړ ته خداى په قهر شي نو کلي ته ورله مخه کړي 176
هوښياره مرغۍ اول ګېرېږي نۀ او چې ګېره شي نو د دواړو پښو نه ګېرېږي 191
کارغۀ ئې د ټانګ نه واړولو او دى هغه شان قرا قرا کوي 192
ستا په سر اور چا ولګولو؟ په خپله، نو ګيله څۀ له د بله؟ 199
چې کوم ځاى نۀ ګرېږي، هغه مۀ ګروه! 199
اور او اوبۀ نۀ يو ځاى کېږي 255
پيشو د خداى د پاره مږه نۀ نيسي 275
پړق د يو لاسه نۀ خيژي 335
لاپه ګاځره لاپه کوتک 347
واک د اختيار دى 350
سوغات(خطونه) مخونه
څۀ ور پناه، څۀ غر پناه 20
چې د کولال د کوره ووځي، ببخ دې ووځي 21
په خپل دې نازېږه او په پردي وشرمېږه 36
لاس چې مات شي، غاړې له راځي 41
غريب سړي ته څوک سترې مۀ شې هم نۀ وائي 42
چې مونږ سره ګرځې، دا مزې خو به کوې 44
د پولۍ پړق ته کښېناستل 64
زورور وړ دى، کمزورى پړ دى 79
يتيم هسې هم د ژړا عادت وي 85

**ټپه:**

ټپه چې د اولسي ادب تر دې دمه د ټولو صنفونو نه لرغونى حېثيت لري، په عام اولس کښې ډېر مقبول او مشهور صنف دى۔ داسې يو پښتون به نۀ وي چې هغۀ ته به ټپې نۀ وي يادې۔ ټپې د خپلې مقبولتيا له کبله پوره نومونه اختيار کړي دي لکه مصرعه، لنډۍ، ټپه وغېره په نومونه ياده شوې ده۔ ټپه چې دوه موزونه مصرعې لري۔ اوله مصرعه ئې نهه سېلابه او دوېمه

مصرعه ئې دیارلس سېلابه لري. د ټپې رغونه ډېره ساده او روانه وي. د هېڅ قسم بناوټ نه خالي وي او زیاتره ښځو ته منسوب کولې شي"(7).

د اولسي مقبولتیا له کبله بعضې ټپې د متلونو حېثیت اختیار کړی. د ټپې د مقبولتیا او ساده ژبې او مزاج په حقله پروفېسر نواز طائر صاحب لیکي،

"دغه رنګ بېشماره ټپې داسې دي چې دوی ئې په هر وخت د ضرورت د متلونو په ځای پکاروي او د خپل مطلب، غرض او جذباتو اظهار په کښې کوي. د ټپې ژبه سوچه او ساده وي. په دې کښې نۀ خو بې ځایه لفاظي وي او نۀ دا د استعارو، تشبیهاتو، تلمیحاتو یا نورو شاعرانه کړلېچونو تکلفات لري. ځکه خو په هر چا ښه لګي او د زړۀ تل ته ئې هم ټک په ټکه پرېوځي. لنډه دا چې د ټپې کور د خپلو بې شماره خصوصیاتو له کبله د هر پښتون د زړۀ په دنیا کښې دی"(8).

لکه څنګه چې وړاندې د بحث لاندې دا خبره راغله چې ټپه د خپلې مقبولتیا لۀ کبله په اولس کښې د متل حېثیت هم اختیاروي نو په دغه اند پښتانۀ د مجلس ټنګ ټکور نه علاوه په خبرو اترو کښې هم ټپې په کار راولي. د هغې وجه دا ده چې یو خو ټپه د ساخت له کبله اسانه، روانه او ساده ژبه لري او بله دا چې د ټپې موضوع ډېره خوږه ده. غرض د ژوند په هر اړخ ټپې وئیلې شوې دي. دغه رنګه ټپه د خبرو اترو او بحثونو نه علاوه په تحریر کښې هم د خپل جامعیت او زړۀ راکښون له کبله استعمال شوې دي.

خان عبدالولي خان نۀ یواځې دا چې د خپل فولکور او په خاصه توګه د ټپې سره ډېره زیاته مینه درلوده (چې د ټپو راټولول او د هغې چاپ شوې مجموعه "ملغلرې" ئې ژوندی ثبوت دی)، بلکې په زرګونو ټپې ورته یادې هم وې چې په خبرو اترو او تقریرونو کښې به ئې د موقعې او محل مناسبت سره استعمالولې. دغه رنګه د بیان نه علاوه د هغۀ په همه نثري لیکنو کښې د ادبي رنګ او ښکلا په خاطر د مقصدیت نه ډکې ټپې استعمال شوې دي چې د نثر خوند ئې په څو چنده سېوا شوی دی. خان عبدالولي خان د پښتو د محاورې او متل غوندې د ټپو استعمال هم په خپلو نثرونو کښې په بشپړه توګه ترسره کړی دی اوزما په خیال په نثر کښې د ټپو برمحل استعمال هم په پښتو کښې دۀ کمال ته رسولی دی چې دغه سعادت هم دۀ ته حاصل دی. لکه د متل چې د خان عبدالولي خان د نثر نه ټپې لرې کړې شي نو د کتاب د اهمیت سره سره د متن ټول مطلب او خوند هم د مینځه ځي. خان عبدالولي خان په سوونو ټپې په خپلو نثري لیکنو کښې استعمال کړې دي چې د هغۀ د ذهني استعداد سره سره د هغۀ په ژبه د قدرت او سحر انګېز بیان باندې ګواهي هم ورکوي. لکه چې یو ځای د امریکې او پاکستان د ملګرتیا په حقله لیکي:

"اخوا په َ1952ء کښې په امریکا کښې صدارتي انتخابات وشول او فوځي امیزن هاور (Republican) صدر منتخب شو ۔ رچرډ نکسن نائب صدر او د مطلب سړی فوسټوډېلي سېکرټري آف سټېټ مقرر شو ۔ ددغه ټول صدارتي انتخاب مهم موتړی د کمیونزم په خلاف مورچه قائمول وو او جنګي منصوبه بندي په دې نظر جوړېدله چې په مشرقِ وسطيٰ، جنوبي ایشیاء کښې دې قوي اډې جوړې کړې شي چې د جنګ په وخت کښې هغه د روس د تباهۍ قابلې وي ۔ هغه پښتانهٔ ټپه کوي چې،

خدایـــــه زړې فتنې تازه کړې
چې د لغړو زلمو قدر پېدا شینه"(9).

او دغسې د روس په حقله د پېرنګي د پالیسۍ په حقله چې کله پېرنګی دا یقین واخلي چې روس کمزوری او د بهر دنیا نه کټ شولو نو خان عبدالولي خان ئې د ټپې په هنداره کښې داسې یادوي:

"نو پېرنګی بیا پوهه شو چې که روس دا ځل جرمني له ماته ورکړه نو بیا خو به دی نور هم قوي پاتې شي نو 'دی په وتلې توبه بیا ستومانه شهٔ نه"(10).

په یو بل ځای کښې د پېر زکوړي صاحب د خپل عمل د لارې مل په خپر د هغهٔ په حقله وائي چې هغه چې څهٔ وخت کښې په حکومت کښې ؤ نو هغهٔ د قېدیانو د نظربندۍ د بِل په حقله چې د نظر بند قېدیانو په قانون کښې دې نرمي راشي، مخالفت کړی ؤ ۔ چې بیا په جېل کښې د هغه قانون لاندې پروت ؤ نو د ولي خان د خولې نه ئې داسې واورئ، "هغه پښتانهٔ ټپه کوي،

زما په غم خوشـــــــــحالي مهٔ کړه
سبا به ستا په کور غوغا د بېلتون وینه"(11).

د قاضي عطاء الله مرحوم په جېل کښې د مرګ په ضمن کښې د هغهٔ شجاعت او ننګ داسې ستائي،

"قیوم خان چې په صوابۍ کښې کوم تقریر کړی ؤ چې اول خو به رانه قاضي ژوندی د جېلخانې نه نهٔ راځي او که چرې راووت نو هم به ئې په دې چوک کښې د ډاک بنګلې دېوال ته چارماري کوم ۔ قاضي صاحب مړ نهٔ دی، مړ کړی شوی دی ۔ پښتنې پېغلې ټپه کوي چې،

په تور ټوپک ویشــــــتلی راشې
د بې ننګۍ اواز دې رامهٔ شه مئینه"(12).

او د هغهٔ په مرګ یو تاثراتي مضمون (چې د شخصیت نګارۍ کرهٔ ورهٔ لري) کښې د هغهٔ په مرګ د ننګ، غېرت او مړانې ویر داسې زمزمه کوي،

"د سرحد (پښتونخوا) پښتنو او غېرتي جانبازانو! زمونږ د ازادۍ د لارې مشر او ملګری دغه دی نن په تور ټوپک ویشتلی درغی او د بې ننګۍ د اواز په ځای ئې سر کېښودو ـ اواز ورسره درغله پښتنو پېغلو چې به وې چې:

جانان مې ســــــر په وطـــن کېښو
په تار د زلفو به کفن ورله ګنـــډمه"(13)

د پېرنګي د اوبو په لار د سفر شروع او بیا هندوستان په لاره تر پښتنو د رارسېدو سره سمه دا ټپه د ولي خان د قلم نه داسې راووځي، "زمونږ د وړوکوالي یوه ټپه وه،

چرته لنــــدن چرتـــــه چترال دی
بې ننګي زور شوه پېرنګیان چترال له ځینه"(14).

بیا د ماسټر عبدالکریم په مرګ چې کوم لیکلی مضمون (چې دا هم د شخصیت نګارۍ رنګ اخلي) کښې د شعر د سرخط لاندې د هغۀ په مرګ خپل دردېدلو احساساتو له د اظهار رنګ ورکوي نو د خپلې مجبورۍ او د ماسټر کریم مرګ په ټپه کښې داسې یادوي،

"زۀ په کـــــمر ورته ولاړ وم
د جانان سپین مخ ئې قبلې ته واړونه

ما کتل چې باچاخان د خپله لاسه هغه بکس ته کوز کړو، په خپله ئې وسپارلو او ما لیدل چې خازې ئې پرې واړولې ـ په هغه کچه قبر هغه بې شمېره نرګس ولیدل چې زما په شان د نورو ډېرو خلقو سره د هغوی سترګې هم د اوښکو ډکې وې"(15).

د دې پورته حوالو نه دا خبره څرګندېږي چې خان عبدالولي خان د پښتو ټپې سره ډېره مینه هم وه او د هغې سره سره ئې د نثر په امېل کښې لکه د قیمتي ملغلرو په مناسب ځایونو پئیلې هم وې چې که یو طرف ته د خان عبدالولي خان په نثر د قادرالکلامۍ ګواهي ورکوي نو بل پله د هغو په مناسبو ځایونو او اعلی معیار د ټپو استعمال د هغۀ په خوندور نثر کښې په ادبي رنګ او ښکلا هم دلالت کوي ـ

د خان عبدالولي خان په نثرنګارۍ کښې په سوونو داسې نمونې شته چې د پښتو ټپې د جامعیت او جاذبیت نه پوره پوره کار اخستی شوی دی او د نثر خوند ئې یو په لس کړی دی ـ

د خان عبدالولي خان په نثري لیکنو کښې د سوونو په شمېر کښې د پښتو ډېرې ښکلې او نایابه ټپې پکارولې شوې دي چې د هغۀ د نثر نه ټپې راټولې کړې شي نو د ټپو یوه غوره او نایابه مجموعه ترې جوړېدی شي ـ

# حوالې


(1) شینواری، محمد موسیٰ خان، د متلونو قیصې، جنوري 1999ء، مخ 34

(2) طائر، محمد نواز، پروفېسر، روهي متلونه، دوېم جلد، پېښور، پښتو اکېډیمي، 1982ء، مخ 3

(3) مومند، قلندر، مشموله، مقدمه د قیصه خوانۍ ګپ منشي احمد جان، چاپ ځای سمال انډسټریز اسټیټ، کوهاټ روډ پېښور، مخ و.

(4) جهانزېب، نیاز، پروفېسر، سوغات، ملت پرېس، لاهور، جولائي 2006ء، مخ 90

(5) ولي خان، باچاخان او خدائي خدمتګاري، درېم ټوک، د چاپ ځای پېښور، مارچ 1998ء، مخ 176

(6) هم دغه اثر، مخ 178

(7) داود، داور خان، پروفېسر، پښتو ټپه، چاپ ځای او چاپ کال نهٔ لري، مخ 5

(8) داود، داور خان، پروفېسر، ټپه او ژوند، پښتو اکېډیمي پېښور، 1985ء، مخونه3، 4.

(9) ولي خان، باچاخان او خدائي خدمتګاري، دوېم ټوک، د چاپ ځای پېښور، مارچ 1994ء، مخ 14

(10) هم دغه اثر، مخ 18

(11) هم دغه اثر، مخ 141

(12) هم دغه اثر، مخ 145

(13) ولي خان، غازي قاقي، مشموله مجله 'لار' پېښور، فروري 1957ء، مخ 73

(14) ولي خان، د ماسټر کریم په مرګ لیکلي تاثرات، مشموله مجله 'رهبر' پېښور، فروري 1957ء، مخ 20